# واکمنو د ۱۲ دسمبر د پېښې

# نه هم سبق وانهٔ خستو

عقیل یوسفزے



پلار او ماشومانو داسې نفسیاتي اثرات اچولي دي چې ۸۰ فیصده متاثره مور پلار او ماشومان نېغ په نېغه د نفسیاتي دباؤ،ویرې او د تحفظ د نیشت والي سره مخ دي. دې سانحې د یو داسې زخم او ناسور صورت نیولے دے چې د جوړېدو امکان به ئې وخت اخلي. او شاید چې د دغې اثر په نتیجه کښې د دسمبر میاشت نه د ویرې یو علامت جوړ شوے دے.

اوس پوښتنه دا ده چې د دې خونړۍ پېښې نه پس زمونږ په سوچ، رویو،طریقو او کړن لارو کښې کوم بدلونونه راغلي دي؟ او زمونږ د خلقو سره سره زمونږ واکمنو د دې پېښې نه تر څه حده څه زده کړل؟

که مونږ اوګورو نو دغې واقعې خو مونږه اوجرقولو ولې مونږ د داسې پېښو نه د ځان ساتلو دپاره څه سوچ هم نه دے کړے. د دې غټ ثبوت دا دے چې زمونږ د تحفظ د نیشت والي ویره لا

د ۱۲ دسمبر ۲۰۱۴ ورځ په آرمي پبلک سکول پېښور د ترهګرۍ حملې او د دې په نتیجه کښې د ۱۴۷ ماشومانو او د عملې د غړو د شهادت د غم ناکه پېښې تراخه یادونه اوس هم د کروړونو خلقو په ذهنونو کښې موجود دي. په دې پېښه کښې ۱۳۰ وګړي ژوبل شوي هم وو. خو دغې سانحې د انسانیت په تندي کوم تور داغ پرېښے دے په دې به ټول انسانیت ترقیامته ماتم کوي. داسې محسوسیږي چې لکه دا واقعه چې پرون شوې وي حالانکې د دې یو کال وشو.

د یو رپورټ مطابق دې پېښې په مور

تـراوسـه ختـمـه نه ده. بلکې مونږ هره ورځ هم په دغه ویره کښې ګېر یو چې دغه شان یوه بله پېښه بیا هم پېښېدے شي.

پــه مشـــاهــده کښې راغـلـي دي چې حـکـومتـونو او سیاسي قوتونو د سنجیدګۍ او د پـرلـه پسې اقداماتو هغه مظاهره ونه کړے شوه د کـومې چې ضـرورت ؤ. بلکې دې سلسله کښې د قـومـي ایشـکـن پلان شلو نکتو کښې په نیمو لا تـراوسـه عـمل قدرې هم نه دے شوے. مثلاً د دې نـکتـو څلورمه نکته کښې د نیکټا(NACTA) د فعالیت ذکر شوے دے خو د یو کال تېرېدو باوجود د دې ادارې هیڅ څـه کـارکـردګي په نظر نه راځي. پـه دویـمـه نـکتـه کښې د خـصوصي عدالتونو د جوړولـو ذکـر دے خو د دې عدالتونو د کار رفتار هـم ډېـر متـه دے. د ټـولو نه زیاته ناکامي په غیر قـانـونـي ګـرځـولـو شوو تنظیمونو باندې د پوره پـابـنـدۍ په لړ کښې ښکاري. د یو اندازې مطابق صـرف پـنجاب کښې د ۶۰ نـه تر ۷۰ پورې داسې تنظیمونه موجود دي چې نیم لا تراوسه بغېر څه د ویـرې ترهې فعال دي حکومت دوي ته لاس اچولو کښې پاتې راغلے دے. ډېرو خپل نومونه بدل کړي دي او خپل فعالیتونو کښې اخته دي خو حکومت پـه دوي سـتـرګې پټې کړي دي. د میډیا رپورټونو تـرمـخه شریف برادران او د هغوي حکومت داسې تـنـظیـمـونـو سره رعایت کولو په پالیسۍ عمل لګیـا دے کوي. چې په نتیجه کښې د فوځ د اعلی قیـادت او د دوي تـرمېـنځـه تاوتریخوالے هم پېدا شـوے دے. داسې ښـکـاري لـکــه چې دا قـومي ایـکشـن پـلان صـرف تـر قبـائـیـلي علاقو پورې مـحـدود دے. یو کال وشو خو د شمالي وزیرستان بې کـوره خلق خپلو کورونو ته ستانه نۀ شول چې پـه نتیجه کښې ئې قبائیلي خلقو کښې پریشاني او ناکراري په زیاتېدو ده.

د نیشـنـل ایـکشـن پلان دولسـمـه(۱۲) نـکتـه وائـي چې د وفـاق د انتظام لاندې قبائیلي سیـمـو کښې به اصلاحات کېږي خو تراوسه هیڅ څه عملي ګامونه په نظر نۀ راځي. د افسوس خبره دا ده چې د آرمـــي پبـلـک سـکـول د شهیـدانـو او متـاثـره مـاشـومـانو د مور پلار دا مطالبه تراوسه عـمـلي نه شوه چې د پېښې عدالتي تحقیقات دې وشي.

د زخـمیانو د علاج په لړ کښې د حکومت سـول ادارو دومره څه ونه کړل څومره چې پکار وو البتــه فـوځـي ادارو خپـل فرض پوره کړل او لګیا دے پـوره کوي ئې. دتېر یو کال راهسې د ټولو نه اهــمــه مسـئـلــه زمونږ د خـارجـه پـالیسۍ او د تـرهګـرۍ د خاتمې په اړوند د اقداماتو سره تعلق لري.

افـغانسـتان سره هم په شاړسم دسمبر چې د کوم یو والي د شریک اینټیلجنس معلوماتو او د شـریـکـو اقـداماتو کومه شروع چې شوې وه هغه جـذبـه افغانستان کښې د ترهګرو د حملو او د ښو او بـدو طـالبانو معامله په مخکښې لا نۀ ړه بلکې تېــرو شپږو میـــاشتـــو کښې د پـــرلـــه پسې

تـاوتـريـخـوالي په يو بل د الزاماتو لګولو ښکاره شـوه. تـاوتريخوالے دومره زيات شو چې سفارتي رابـطې هم وشلېدې. په ۱۹دسـمبر چې هارټ آف ايشيـاء په نوم کوم کانفرنس وشو د هغې مقصد د ايـجنډې مطابق دا وښودلے شو چې د افغانستان په حق لـه بـه د ګـاونډي او مـمبر ملکونو ته شريکه تګـلاره اختيـار وي. خـو مشاهده کښې دا راغلل چې زمـونږ حـکـمـرانـانو،ادارو او ميډيـا د يوې مـنصوبې د لاندې دې کانفرنس ته د افغانستان په ځائې د پاکستان او بهارت ترمېنځه د تعلقاتو په تـنـاظـر کښې د کتـلـو کوششونه کول. او دا تاثر مـحسوس کېدو لکه چې دا کانفرنس د افغانستان يا د دې سيمې د ساتنې او امن په ځائې د پاکستان او بهـارت د تـعلقاتو په ځائې کولو دپاره کېږي. د غيـر سـنـجيـدګۍ حـالت خو داسې وو چې په دې مـوقـعـه د دواړو مـلـکـونو مسئله ميډيا کښې د افغانستان نه زياته د بحث موضوع جوړه وه. او د بهارت د خارجه چارو د وزيرې راتګ داسې طريقه بـانـدې پېـش کړے شـو لـکه چې د امريکې صدر پاکستان ته راغلے وي.

دغـه رويـه ډېرو پوهه خلقو وغندله دې لړ کښې د پـاکـسـتـان يـو سـنيـئرصحافي حسن خان خپـله رائې داسې وړاندې کړه. زمونږ د ادارو رويه څـنګه وه؟ د دې اندازه د خارجه چارو د وزيراعظم د صـلاحکار سرتاج عزيز د دوه بيانونو نه لګېدے شـي. يـو بيـان کښې نـوموړي ووئيل چې مونږ د سشـماسوراج د راتګ بې قرارۍ سره انتظار کوو هـم پـه دغه ورځ دۀ دا هم ووئيـل چې افغانستان ته پکار دي چې طالبانو سره د مذاکراتو په ميز کيني چې د مذاکراتو د عمل آغاز وشي.

د مـاهـرانـو مـطـابـق د افغانستان د صدر ډاکټر اشرف غني په مقابله کښې سشماسوراج ته غيـر ضـروري اهميـت ورکړے شوے ؤ. او دغې روېې د دې کـانـفـرنس نه مخکښې افغانستان ته کافي منفي پېغام ورکړو. د پاکستان د حاکمانو په مـقـابـلـه کښې د بهـارت رويـه د افغـانسـتـان او کـانـفرنس په حواله زياته سنجيده او واضحه وه. او د بهـارت خـارجـه وزيـرې څو څو ځله دا ووئيل چې دا د افـغـانسـتـان د حال او مستقبل په حواله د دې کـانفرنس د کاميابۍ دپاره پاکستان ته راغلې ده.

د يو کوربه ملک په حيث چې پاکستان ته د افغانستان باره کښې د کومو نيکو خواهشاتو او ګـرم جـوشۍ مـظـاهـره کول پکار وو هغه په دغه وخت کښې ببخي ونه ښکارېده.

مـاهـران دا هم خيـال لـري چې د پېښور غـونـدې د پېښې نـه د ځـان سـاتلو دپاره به دواړو مـلـکـونـو او نړي والې وروروليۍ تـه پـه يو صف کښې اودرېـدل پـکـار وي. کـه داسې ونه شي نو د داعش غونډې د قوت خورېدو سره به سيمه يو ځل بيا د خطرناکو حملو په ضد کښې راشي او د دې به بې حده خطرناکې نتيجې راوځي.

☆☆☆